## پہ لبنان کې د عامه نظر پہ اړه مطبوعاتي اعلامیه

**له لبنان څخه د فلسطینیانو د بې ځایه کولو د مسئلې په اړه د یهود بارک اعتراف دا څرګندوي چې دغه مسئله پر لبنان باندې د ۱۹۸۲ م کال د برید یوه موخه وه**

د یهودي دولت رییس او د پوځ پخواني جنایتکار وزیر یهود بارک اعتراف کړی چې پر لبنان د ۱۹۸۲ م کال د یرغل او تر ۲۰۰۰ م کال پورې د لبنان په جنوب کې د پاتې کېدو او حتی د یاسر عرفات لخوا د لبنان له پرېښودو وروسته یوه موخه په لبنان کې د فلسطیني کډوالو ساتل وو. بارک له تل ابیب راډیو سره په خبرو کې وویل چې دولت یې پلان درلود ترڅو فلسطیني کډوال له لبنان څخه اردن ته ولېږي، خو په خبره یې چې د دغه پلان په عملي کولو کې پاتې راغی.

نوموړي دغه راز وویل چې دی د فلسطینیانو پر وړاندې د جرمونو او وژونو له لویو عاملانو څخه دی او د دغه یهودي پلان مطابق به په لبنان کې د فرقه یي تعصب او د مسیحیانو د حقونو د پاللو له لارې د فلسطینیانو شتون له منځه وړي.

**موږ وایو:** د هغه څه په رڼا کې چې حزب التحریر-ولایه لبنان د ۲۰۲۰ م کال د مې په دویمه په «په لبنان کې فلسطینیان د ژوند د فشار او د سیاسي زیان ترمنځ دي» تر لاسلیک لاندې په خپره شوې لیکنه په لبنان کې د فلسطینانو د ستونزو د حقیقت په اړه خپل نظر وړاندې کړ. د جنایتکاره بارک وروستی څرګندوي د یهودیانو د موخو همغږي څرګندوي او دا ښیي چې دوی د فلسطیني وروڼو او خویندو پر وړاندې د توکمپالنې له لارې لبنان دغه حالت ته رسولی دی. دا لومړی ځل نه دی چې دوی د خپل شتون له ساحې څخه لبنان ته د فلسطینیانو د لېږد د هغې الوتکې مخه نیسي چې د کرونا ویروس له امله یې لبنان ته لبنانیان رسولي وو.

په همدې خاطر موږ نه یوازې دا چې په لبنان کې د فلسطیني وروڼو او خویندو سره د لبنان د نورو خلکو پر څېر د چلند کولو او په ځانګړي توګه د کار او ملکلیت د حقوقو پر درلودلو باندې ټینګار کوو، ترڅنګ یې غواړو دا هم په ډاګه کړو چې هغه څوک چې په لبنان کې د دولت سرپرستي پر غاړه لري، که د پردې مخکې دي او که تر شا، هغه څوک چې شپه او ورځ د فلسطینیانو او د هغوی د مقاومت خبرې کړي، هغوی چې په اړه یې اشعار وایي، خو په عمل کې یې نه پلي کوي، هېڅ وخت د دوی پر وړاندې شته تعصب ته اشاره نه ده کړې.

په لبنان کې د فلسطیني وروڼو او خویندو ۷۲ کلن شتون نن ورځ د لبنان د ټولنیز جوړښت  برخه ګرځېدلې او د خپل بهرني لېږد او نړیوالو مرستو له لارې دوی د لبنان په اقتصاد کې خپله برخه ادا کوي.

سربېره پردې که لبنان وغواړي چې د فلسطیني ظرفیتونو څخه استفاده وکړي او له بهره د فلسطینیانو پانګونه جلب کړي، نو د دغه هېواد اقتصاد بیا پر پښو درېدلی شي. دا یوازې هغه وخت امکان لري چې د توکمپالنې هغه ټول محدودیتونه لرې شي چې په لبنان کې د فلسطینیانو د بې ځایه کولو د هغه پلان سره تطابق لري چې د ۱۹۸۲ م کال د یرغل راهیسې تر نن ورځې پورې د دوی پر وړاندې لګول شوي او دوی د بیت المقدس او د هغه له شاوخوا سیمو څخه لرې ساتل کېږي.

## حزب التحریر-ولایه لبنان مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۱هـ.ق کال، د رمضان ۱٦ مه

۲۰۲۰م کال، د مې ۹ مه

د صدور شمېره: ۰۹/۱۴۴۱

